

NHS England



# د هغو ښځو او کسانو لپاره د درملو په هکله بیاکتنې په تړاو معلوماتي پاڼه چې valproate درمل خوري






Pashto

# یاد پاڼه د څه په هکله ده؟





دغه پاڼه د کسانو لپاره د valproate درملو د خوړلو ګټو او خطرونو په هکله ده چې عمر يې 55 کاله دی او valproate خوري. په دې توګه مو ملاتړ کوو چې د valproate درملو د خوړلو د پیل په هکله له خپل متخصص سره خبرې وکړئ. valproate ته ځينې وختونه Epilim يا Depakote هم وايي. valproate د val-pro-ate په توګه تلفظ کېږي.





valproate د میرګي (مېرګي يا تشنجي حملې) يا دوه قطبي اختلال او نورو روغتیايي ستونزو د درملنې لپاره ډېر اغېزمن کېدی شي. ياد درمل د داسې تشنجي حملو يا میرګي د راکمولو لپاره تر ټولو ښه درمل دي چې عمومي وي.





متخصص به ستاسو لپاره تر ټولو غوره درملو په هکله د ښه او خوندي اوسېدو په پار درته ووايي. ځينې وختونه خلک په میرګي يا تشنجي حملو سره ډېر ناروغ کېدی شي او ځينې بيا په ناڅاپي توګه مړه کېږي (SUDEP يعنې له میرګي څخه د تمې خلاف ناڅاپي مرګ هم ورته وايي).




ستاسو متخصص به له تاسو، پالونکو، کورنۍ يا مدافع وکيل سره د valproate درملو د ګټو او خطرونو په هکله خبرې وکړي. ياد کس به SUDEP او روغتيا ته مو نور متوجه خطرونه تشريح کړي.





که د مېندوارۍ پر مهال valproate درمل خورئ، کېدی شي د ماشوم لپاره مو د خطر سبب شي.




valproate پر هغه طريقه اغېز کولی شي چې ماشوم او مغز پرې وده کوي. د ماشوم د مغز ودې په تړاو د ستونزو را پيداکېدو 30-40% چانس شته دی.

ښايي معنا يې دا وي چې ماشوم دې د زده کړې معلوليت يا آټېزم ولري يا توجه ونه شي کړی يا لا هم ناست وي (ADHD).

## ولې پر خپلو valproate درملو باندې بیاکتنې یا غور ته اړتیا لرم؟



که valproate درمل خورئ، په ماشومانو کې د روغتيايي ستونزو سبب کېدی شي. که مو عمر تر 55 کلونو کم وي، له تاسو به وغوښتل شي چې هر کال له خپل متخصص سره ووينئ. دغې چارې ته د درملو بیاکتنه یا غور وايي.




که د روغتيايي پاملرنې پاسپورټ لرئ، نو خپل متخصص ته يې وښيئ. دغه کار له هغه سره ستاسو په ملاتړ کې مرسته وکړي.

ستاسو د درملو په تړاو په هر ډول پریکړه کې باید تاسو دخیل وئ. تاسو له خپل متخصص سره په خپلو ناستو کې له ځان سره یو کس لرلی شئ لکه د کورنۍ غړی، پالونکی، ملګری، مدافع وکیل یا داسې څوک چې د نظرونو په بیانولو کې مرسته درسره کولی شي.



په یاد ساتئ چې عړ مو مهم دی. که نه پوهېږئ، تل پوښتنه وکړئ. که احساس کوئ چې د خپل بدن یا ژوند په هکله په پریکړو کې دخیل نه یاست، نو ووایئ.




متخصص به مو پوښتنه وکړي چې ایا تاسو د ماشوم لرلو پلان جوړوئ که نه یا دا چې فکر نه کوئ چې مېندواره به شئ. دوی به وګوري چې ایا valproate درمل لا هم ستاسو لپاره تر ټولو غوره درمل دي که نه. له تاسو به وغوښتل شي چې د خطر پېژندنې کلنۍ فورمه (ARAF) له خپل متخصص سره بشپړه کړئ. تاسو ته به د ARAF یوه کاپي درکړل شي.





## زه فکر نه کوم چې مېندواره به شم

که تاسو او متخصص مو فکر نه کوئ چې تاسو به مېندواره شئ، نو دغه چاره ستاسو په ARAF کې له دلیل سره ولیکي.




## ښايي مېندواره شم



که تاسو او متخصص مو فکر کوئ چې ښايي تاسو مېندواره شئ، نو باید متخصص به هر کال درسره وګورئ. تاسو به پر خپل میرګي یا دوه قطبي اختلال باندې بحث وکړئ او وبه ګورئ valproate ستاسو لپاره لا هم تر ټولو غوره درمل دی. دوی به وګوري چې تاسو يې له خوړلو سره موافق یاست.




که مو عمر تر 55 کلونو کم وي او مېندواره کېدی شئ، نو valproate کارول کېدی شي، که دوه متخصصین موافق وي چې یاد درمل ستاسو لپاره تر ټولو غوره دي. تاسو باید د مېنوارۍ ضد لارې چارې په پام کې ونیسئ لکه حلقه یا د مېندوارۍ ضد امپلانټ. د خپلو آپشنونو په هکله سلا مشوره غوښتلی شئ.





که مېندواره کېدی شئ، متخصص به مو درسره بحث وکړي چې ایا بل داسې درمل شته که نه چې د valproate په اندازه ښه وي.





له valproate څخه داسې درملو ته اوښتل چې ښايي ښه کار ونه کړي یا ژر بدل شي، نو دغه چاره مو میرګي یا روغتیايي ستونزې لا خرابولی شي. ځینې کسان باید روغتون ته لاړ شي او ځینې بیا ښايي مړه شي.

# زه د مېندوارۍ په هکله د پلان نیولو په هکله فکر کوم

که تاسو د مېنداریٔ پلان نیسئ، ډېره مهمه ده چې له یوه ډاکټر سره خبرې وکړئ. یا ډاکټر مرسته درسره کولی شي چې تاسو یا ما مو ماشوم ته هر ډول متوجه خطر تر مېندوار کېدو مخکې را کم کړي.




که مېندواره شئ، باید خپل ډاکټر ډېر ژر خبر کړئ. مهمه دا ده چې د valproate درملو خوړل له خپل متخصص سره له خبرو پرته ونه دروئ ځکه چې خطرناک کېدی شي.



مهمه ده چې که مېندواره شئ او میرګي یا تشنجي حملې ولرئ، باید د امکان تر کچې بندې شي. بیخي ډېر میرګي پر هغه طریقه اغېز کولی شي چې د ماشومانو بدن او مغز پرې وده کوي. ځینې وختونه ښځې او نا زیږېدلي ماشومان د میرګي او SUDEP (له میرګي څخه د تمې خلاف ناڅاپي مرګ) له امله مړه کېږي.



ډېرې میرګي لرونکي ښځې ښې مېندوارۍ لري، خو دا وخت نا خوندي کېدی شي. ځینې ښځې له مېندواره کېدو پرته مور کېدی شي لکه سقط.



## لا زیات معلومات

د دغه معلوماتي پاڼې PDF را ډاونلوډ کولی شئ او په لاندې لینک لا نور پوهېدی شئ:

**southeastclinicalnetworks.nhs.uk/valproate**




دغه راز کولی شئ **دغه QR کوډ** د خپل تلیفون کامرې په سمولو سره ترسره کړئ.

دغه راز یاده معلوماتي پاڼه په نورو بېلابېلو ژبو کې شته چې را ډاونلوډ یې کړئ.



## تصدیقونه

د جنوب ختیځې سیمې او ترې ورهاخووا تولو ډاکټرانو څخه مننه او همدارنګه له هغو متخصصینو څخه مننه چې د میرګي او رواني روغتیا په ستونزو دواړو کې تجربه لري او د دغې پاڼې په جوړولو کې یې مرسته کړې ده.

موږ په ځانګړې ډول له Active Prospects، ProActive Community members، SUDEP Action او My Life My Choice څخه مننه چې له موږ سره یې یو ځای دغې پاڼې بنه ورکړه.

CS57039 NHS Creative 2024

'Easy-on-the-i' images copyright © Leeds and York Partnership NHS Foundation Trust.